# نړیوالې هوښیارتیا وې

راټولوونکی: ډاکتر ماخان مېرزی شینواری

خپرونکی: Ketabton.Com

د ښاغلي انجنیر شمشاد زهیر له خوا

کال: ۱۴۰۰ ه ک

Ketabton.com

له المانی ادبیاتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيوليک


| | | | |
|---|---|---|---|
| سريزه | ۳ | فيليپينی | ۵۲ |
| نړيوالي هوښيارتيا وې | ۴ | **سريلانکا** | **۵۴** |
| عربي متلونه: | ۴ | تميل | ۵۷ |
| ايراني متلونه او هوښيارتياوې | ۱۸ | **عربي امارت** | **۵۷** |
| ختيځ متل | ۲۳ | نور نړيوال متلونه | ۵۸ |
| ايراني هښيارتيوې | ۲۳ | د افغانستان متلون | ۵۹ |
| ختيځي هوښيارتياوي | ۲۵ | نيپال: | ۶۸ |
| د سوريې پخواني اوسېدونکي | | **د پښتنو هوښيارتيا** | **۷۷** |
| **Aramäische** | **۲۷** | يو څو د جنگ متلونه | ۷۹ |
| ختيځه هوښيارتيا: | ۲۸ | ازادي | ۸۹ |
| **بحرين** | **۲۹** | خليل جبران | ۹۹ |
| **بنگلادېش** | **۳۱** | د ليکوني ليکنې | ۱۰۳ |
| ختيزه هوښيارتيا: | ۳۲ | د ليکونکي ژ،ند ته کتنه | ۱۱۰ |
| **Bhutan** | **۳۳** | | |
| د بروناى **Brunei متلونه** | **۳۶** | | |
| د داياک متلونه | ۳۶ | | |
| د اردون متلونه | ۳۸ | | |
| د کمبوجا متلونه | ۳۹ | | |
| **قطر** | **۴۱** | | |
| د کويت متلونه | ۴۳ | | |
| د لاوس متلونه | ۴۴ | | |
| د ماليديون | ۴۶ | | |
| د عمان متلونه. | ۴۷ | | |
| د فلسطين | ۵۱ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه

يوه ورځ د ما له ملګري ډاکتر محمد صابر سره ګرځېدو او هغه يو څو ورځې يو د غوره خبرو يا ښه يې ،،د نړي هوښيارتيا،، کتاب له ځان سره راوړ. يو څو مو هره ورځ ور څخه لوستل. خوښ مې شو، نو مې وپتيله، چې د غوره خبرې به راټولوم. سم بيکاره هم وم، نو په لږ وخت کې مې سره راټول او پښتو ته وژباړل.

کېدی شي تکرار او ځنې ناسمونونه په کې ويو چې بخښنه باراته کوئ.

په دې برسېرهمې د جبران خليل غوره خبرې مخ ته راغلې او پ،ره خوند يې راکړ، نو له دې څخه مې هم څو ورسره يو ځای کړې.

که وخت وو، نو دا نږدې درې سوه دي، هغه بههم پښتو ته راواړوم.

هيله ده، چې تاسو به ورسره خوښ شئ او وخت به مو خوښ تېر کړي.

ما په دې ليکنه پسې د خليل جبران ځنې غوره خبرې هم مل کړې او په راتلوکې کې به يې ټولې نږدې درنيمسوه غوره خبرې تاسو ته په پښتو وړانې کوڅو چې ډېرې په زړه پورې راته برېښي

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړیوالې هوښیارتیا وې

۱--د ځان درنښت وکړه او د نورو درنښت.

څه چې کړې د هغې مسؤلیت ومنه.

دالی لاما

۲-- هغه شه، چې غواړې یې. نه هغه،

چې بل یې در څخه هیله لري.

۳-- یواځې زه پرېکړه کوم، چې څوک

ښه راسره کوې او څوک نه.

۴--هره اخرني پېښه د یوې نوې لړۍ پیل دی.

۵--هر چېرته چې ته هم ځې، د زړه له کومې لاړ شه

۶-- بخت په دې کې دی، چې داسې

ژوند وکړې لکه ټوله نړۍ او بیا

هم داسې وې لکه بل هېڅ څوک.

۷--ژوندکول، دا په نړۍ کې له ټولوکم پیدا

دی – هغه زیات انسانان یواځې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عربي متلونه:

۸ -- ژبه د زړه ژباړونکې ده.

۹-- ژوند له دوه برخو جوړ دی:

تېر وخت – یوخوب لیدنه

راتلونکی – یوه هیله

۱۰ -- کوچني زړي پورې مه خانده!

یوه ورځ به دا ستره خرما ون وي.

۱۱--که باد لګیږي، نو ډیوه مړه کوي

او اور لګوې

۱۲ --ونه چې سیوری درکوي مه وهه

۱۳--یو د خندا ډک مخ ښه دی

و د طیلا ډک سروبېږدي (بالښت) ته.

۱۴-- د چیتیا په یوه ونه د روغې

جوړې میوه زوړنده ده.

۱۵-- مه خوښېږه چې یو ځوک ځي، تر هغې

پورې چې نه پوهېږې ځوک یې ځاینیوی دی.

۱۶ ستا د باور ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د دښمن دښمنان دي

۱۷-- سړه سینه د خوښۍ کونجي ده.

۱۸--هوښیار په ښکلو متلونو

نه ستړی کیږي

۱۹ -- بخت یوه ښېدیا ده، چې یواځې خوبلیدونکو

اوښانو ته د رسېدو ده

۲۰--  سفر مل وټاکه یا پیدا کړه،

بیا ځان ته لار وټاکه.

۲۱-- ټول انسانان هوښیار دي، ځنې له مخه،

دا نور پسې، که هغه غوره څه ته د رسېدو

خبره وي، نو بیا هر یو بېعقله دی.

۲۲-- که څوک غواړې هر څه ولري،

هر څه له لاسه ورکوي.

۲۳-- زغم دخوښۍ کونجي ده

۲۴ --که غواړې څه ووایې، نو ویل

دې باید ښه وي، و چپتیا ده

۲۵-- په ځوي دې له هغې څخه د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ وکړه، چې لوښی ماتوي

۲۶ --څوک چې اوږد فکر کوي، پیل نه کوي،

او څوک چې پیل ونه کړې، نه یې ګټې.

۲۷-- ښه پوهه هغه ده، چې پرې پوهېږي،

کله چې اړتیا ورته ولرې.

۲۸ -- څوک چې ګبینی خوري،

د مچیو چیچل به زغمي یا

څوک چې ګبینی خوري،

ګوتې به یې ککړیږي

۲۹ --د خندا او لوبو په منځ کې

اروا روغه وي.

۳۰ -- چېرته چې اخلاق نه وي

هلته ازادي هم نشته

۳۱ --په نړۍ کې هیڅ ستونځمن نه دي،

دا دموږ فکر دی، چې شیان

داسې راته څرګندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲ -- نه هرڅوک، چې ګیره لري،

پیغمبر دی

۳۳-- که زه اورم، زه ترې ګټه اخلم.

که زه خبرې کړم، نور ترې ګټه

پورته کوي.

۳۴-- که ځوک په خبره ولاړ وي،

ستاینه ګټي

۳۵ --څوک چې په فکر کار کوي،

لاس ته راوړي، څه چې غواړي.

۳۶ --که هیلې نه وی، نو ژوند به

پای میندلی وی.

۳۷-- که څوک بې پوښتنې څه ور

کوي، دوه برابره یې ورکوي.

۳۸-- که کور دې له ګیلاس وي، نو

ګاوندي ته تیګې مه غورځوه

۳۹-- ژبه د هرې بدبختۍ مور ده

۴۰ -- تل لمررڼا بېدیاوې جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱-- ژوند د جنت لپاره  ضمانت نه دی.

۴۲ --  ته په هسک کې ستوری نه شې کېدی،

نو په کور کې څراغ اوسه

۴۳--په هر متل کې څه هوښیارتیا شته

۴۴--  که اوښکې نه وی

نو پوښتۍ به وسوزي.

۴۵ -- که نیسې، چې یو بار به وړل شوی وي،

نو باور په ولره!

که ونیسې، چې یو انسان به خپل خوي بدل کړی

وي،نو باور پرې باندې مه لره.

۴۶ -- کمپیدا لیده کاته ملګرتوب زیاتوي

۴۷--یوه د سروزرو  روپي ښه ده،

و زر ناڅرګندو ته

۴۸ -- د خولې زخم  ډېر بد دي، نسبت

د  تورې زخم ته

۴۹-- هلې ځلې ستر ښوونکی دی.

۵۰--  سړی اروا نارامي پیدا کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سړی ناهیلی شي .

۵۱-- یو ویي لکه غشی دی، که یو ځل دې له

له لیندې څخه وځغلاو،بېرته نه شي راګرځېدی.

۵۲-- مصر هغه چاته، چې هلته تلل

غواړي لرې نه دی.

۵۲ -- یو پوه یا ښونکی په هیواد کې داسې

دی لکه سره زر په کوټۍ کې

۵۳-- د لومړي ستاینه حق ده،

که څه هم ورپسې ډېرښه کړی وي.

۵۴ --خبرې کول سپین زر، خو

پټه خوله سره زر دي

۵۵ --مال دې خرڅ کړه تر هغې

چې ستا لا خوښ وي.

۵۶ -- ژوند لکه اور دی:

د لوګې سره پیلیږي او د ایرو سره پای

مومي، دا چې لمبه یې

څومره لویه وي، داپرېکړه ته کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۷ --ماشومان د انسانان وزر دي.

۵۸ -- مين يو ګل په بله سترګه ګوري

و اوبښ ته.

۵۹-- په ښکو ليکلي څه ته لا په زړښت

کې زده کوي، په تيګه ليکلي، څه

چې دې په ځوانۍ کې زده کړي

۶۰ --څوک چې د پيازو په پټي کې

ځي، د پيازو بوي به ترې ځي.

۶۱ -- بختور دې وي، چې په خندا څه واي.

دریواره دې بختور وي، څوک يې

چې بيا وايي.

۶۲ --قهوه بايد دومره ګرمه وي، لکه د

يوې پيغلې لومړۍ مچو.داسې خوږه،

لکه د هغې په غيږ کې شپې او داسې

تياره لکه د مور ښېرا، چې خبره شي.

۶۳ - کله چې چينه وچه شي، نو هلته

يې پر ارزښت باندې پو هيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۴ -- توکې ټکالې او سره سینه دوه
اوښان دي، چې له هغې سره له
هرې دښتې را وځي.

۶۵-- په دې ولې په قهرېږې،
چې ګلاب اغزې لري؟
په دې خوښ شه،
چې د اغزو غونچه ګلان وړي.

۶۶ --هر پوه سهوه کوي،
او هر اصل آس ګوډېږي.

۶۷ -- یو کتاب لکه باغ دی، چې
سړی یې په جیب کې وړي.

۶۷ --که چا ښکار نه وي کړی او هېڅ
مینتوب نه وي کړی، نه یې کله د
ګلو بوي لټولی وي او هېڅکله د موزیک
غږ ته وي ناست، نو انسان نه دي، یو خر.

۶۸-- څوک چې په اغزو موړ وي،
نو کیږدۍ دې پښیابلې نه پرېږدي.
د کوچانو هوښیابتیا

۶۹ --که څوک یوه هګۍ غلا کړي،
نو اوښ هم غلا کوي

۷۰ --د برستن له پاکولو به ښه وي،
که په ځمکه واښه واچوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۱ -- پردی ړوند دی،
که سترګې هم ولري
۷۲ -- مینه لکه یو باغ دی،
که ویې نه پالې، شړېږي.
۷۳ --سترګې ګوري، خو لاس لنډ دی.

۷۴ --دوه کسان نه مړېږي:
چې څوک پوهه او څوک
بډاینه غواړي.

۷۵ــــکه چېټیا دې عادت وي، نو مه ازمایه
چې د بنهپوه په څېر وغړېږې.

۷۶ -- ناه سم ویې په شکو کې پټ کړه.

۷۷-- که ته هم شهزاده وې او زه هم، نو
څوک خره پیایي؟

۷۸-- د  تورې زخم رغیږي، خو د ژبې نه.

۷۹-- په مینه د هغه سره واده وکړه، چې
ته وربانديې ګران(ګرانه) یې، و  هغه  ته،
چې پر تا باندې ګران وي.

۸۰-- لومړی مخ ته وګوره، چې
غواړې یوه څپېره ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۱-- ستا په تن کې د غوښې يوه
ټوټه شته، چې هغه خرابه شي،
ټول تن خرابوي او داغوښه
په رېښتينې زړه دی.

۸۲-- څوک چې د چا خبرو پسې ځي،
ستړی کيږي. څو ک چې يوه غوټه اچوي،
نو په غاښو يې بېرته پرانيزي.

۸۳-- ټول انسانيت په درې ډلو وېشلکيږي:
هغه، چې بې فکره دي، هغه چې خوزند دي،
او داسې، چې ځان خوزوي.

۸۴-- په خدای تکيه وکړه، خو اوښ دې وتړه.

۸۵-- که ته هر سپی غېوې، چې په لار درځي، نو
هيڅ کله به موخې ته ونه رسېږې.

۸۶ – څوک چې نه پوهيږي او نه پوهيږي چې
نه پوهيږي، يو سرکاوته دی. له هغه ځان
ساته.څوک چې نه پوهيږي او پوهيږي، چې
هغه نه پوهيږي، ساده دی. هغه ته ورزده کړه.
څوک چې پوهيږي او نه پوهيږي، چې پو
هيږي، هغه بيده دی.راوېښ يې کړه.
څوک چې پوهيږي او پوهيږي، چې پوهيږي،
هوښيار دی. هغه پسې لاړ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۷-- غریب هغه نه دی، چې څه نه لري، غریب
هغه دی، چې هېڅکله پوره نه لري.

۸۸-- په انسانانو کې هغه ډېر بد انسان دی،
چې هیڅ پرېکړه نه مني، هېڅ گوناه نه پټوي،
او خپلې تېروتنې نه منې.

۸۹--ښه ویناوال خپل اورېدونکي داسې چمتو
کوي، چې له غوږونو سره گوري.

۹۰-- یو څوک چې هرې لورې ته تل خاندي، د
مخ له گونځو څخه پرته بل څه لاس ته نه راوي.

۹۱-- یو له بخت بدرگه سړی سمندر ته واچوه،
او هغه به د یوه ماهي پهکې ببرته راووځي.

۹۲-- څوک چې ځانله کار کوي جمعه کوي یې،
څوک چې یوځای کار کوي، نو ضربوي یې.

۹۳-- د بل ناسمونونو ته پام کول خپل ځان ته د
نه کتلو څخه راټوپوهي.

۹۴-- ځان هلته بدبخت مرغه وبوله، چې که
ته تابوت جوړونکی وي او انسانان له مرگه
لاس واخلې.
یادونه: په کابل کې یې له یوه تابوت جوړونکي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و پوښتل شول، چې کاروبار څنګه دي؟
په خواپ کې یې ورته وویل چې د خدای فضل
دی، ښه دی.

۹۵-- غټه ناسته مغرور او اراموي.

۹۶-- ګلان، چې په زور وشکول شې،
بوي نه ورکوي.

۹۷-- څوک چې په معجزه نه پ،هیږي، هغه
په اوږده روښانونه هم نه پوهیږي.

۹۸-- دظالم خوب یوه دعا ده.

۹۹-- قرآن یو غرېدونکی کائینات دی
او کائینات یو پټه خوله قرآن.

۱۰۰-- د سرو زرو زینې له خره اس نه جوړوي.

۱۰۱-- څوک چې په دښته کې ځي او بېرته
راشي، نو هغه نور همغه نه دی.

۱۰۲-- درې شیان بېرته نه راګرځي:
له لیندې ویشتلی غشی، هغه زر ویل
شوې خبره او له لاسه ورکړي امکانات.

۱۰۲ اــافغاني یې: له ورخه تېرې اوبه او تېر
وخت( هغه بیت یې کېدی شي ناسم ولیکم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۳-- د بختور لار پسې ځه، او ته به بختور شي.

۱۰۴-- د یوه ښه کلاون( ۱ ) راتګ ښار ته ګټور
دی، و ۳۰ خرو ته چې دارو پرې باندې بار وي.
(۱)(هغه د سر کس سړی، چې په جګو ډانګو هم
ګرځي او ټوکې هم کوي. په پښتو یې نه پوهېږم).

۱۰۵-- ښه سوغات، چې ځوک یې یو بل انسان ته
ورکوي، په صداقت کتل دي.

۱۰۶-- ډانګ د هغه چا لپاره، چې یاغي وي.

**۱۰۷-- دا د نن ورځې هګۍ د سبا له چرګ ځخه ښه ده.**

۱۰۸-- هره غوټه د یوه چا له خوا پرانسل کیږي.

۱۰۹-- هېڅ ونه نه شته ، چې تر اوسه
له باده نه وي خنډل شوي.

۱۱۰-- له جنجال لرې پاتې شه او سندرې ورته وایه.

۱۱۱-- وړیا څه نشته، خپله ړندوالی او کڼوالی هم نه.
الماني یې:
۱۱۲-- وړیا څه نشته، مرګ هم نه.

۱۱۳-- ۱۰۰۰ ښېراوې هم کالي نه څېرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایراني متلونه او هوښیارتیاوې

۱۱۴-- زوړ ملګری مه پرېده، ې موټر بوزي،
ځکه چې هغه د ځوان برابر نه دی.

۱۱۵-- د مینې سره هر څه اسانیږي، هغه چې
ستا پوهې (شعور) ته ستونځمن په فکر ورغلی.

۱۱۶-- ادب یوه بډایینه ده، هغه مړوي، چې
ورکوي یې.

۱۱۷-- یوه شه چې هېڅ زور نه شته، چې
پسې خوښي نه راځي، هیڅ بدبختي نه شته،
چې کوم بخت به په ځان پسې ونه لري.

۱۱۸-- هغه ځانپېژندنې او ځان ثابتونې ته
نږدې دی. چې له خپلې طالع سره خوښ
او یو وي، ځکه چې قناعت د انسان خوښي
ده د ژوند په تریخوالي کې هم.

۱۱۹ -- یو د سترګو رپ د روح ارامي ډېره ښه
ده، و هر نورو څه ته، چې ته پسې هڅېږي.

۱۲۰ -- رښتیاو تهپه مخ کې مه ودرېږه، نو
بیا تا ته در ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۱-- زغم یوه ونه ده، چې ریښې یې ترخې،
خو میوه یې خوږه ده.

۱۲۲-- هوښیار پوښتنه کول ستونځمن دي،
و هوښیار ځواب ورکولو ته.

۱۲۳ -- د مینې له لارې هر څه اسانیږي، چې
د هوښیارتیا فکر ته ستونځمن ورځي.

۱۲۴-- چېرته دې چې تغر دی، هلته دې کور دی.

۱۲۴ ب-- هوښیاره پوښتنه چې کړې ستونځمنه
ده، و هوښیار ځواب ته چې ورکوې یې.

۱۲۵-- دوه شیان د ناتوانۍ نخښې دي:
څه نه ویل، چې باید څه وویل شي، او خبرې
کړل، چې باید چپ وې.

۱۲۶ -- سړی باید مړ نه شي، چې جنت
ته لاړ شي، تر هغې پورې چې سړی باغ لري.

۱۲۷-- ډېر ښهچې له سفر څخه له ځان سره
راوړې، روغ پوستکی دی.

۱۲۸-- لومړی ګوزار باید ډېر توانمند وی،
بیا نو ډېر ګوزارونه سپما کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۹ــــاسمان(جنت) د مور د پښو لاندې دی.

۱۳۰-- اسان وهل کيږي، چې څاوند يې يو
ځل وهلو ته پرېښودلی وي.

۱۳۱-- يوه برخه سوغات کړه، يوه برخه
ولګوه، يوه برخهسپما کړه.

۱۳۲-- ښه دی، چې زاړه کالي وګنډې، و هغې
ته چې پور يې کړې.

۱۳۳-- کوچنيان جنت ته پلونه دي.

۱۳۴-- څوک چې څرګند فکره دی، په دې
خوښي مومي، خو سړی تا ته چپ دي، چې
ته چپ يې.

۱۳۵-- څوک چې کوچنی نه لري، په
سترګو کې رڼا نه لري.

۱۳۶-- ادب سرمايه ده، چې دا هغه بډای
کوي، چې ورکوي.

۱۳۷-- که ته مينه لرې پيسې او ښه ناپای
يوځای يوسې، ته به لغړ شې او په پای
کې به ګور ته يووړل شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۸-- ښه د کور دړه تل وازه ده

۱۳۹-- ځوک چې ډېر تېتيږي، پل کوي، چې په
ملا کړوپ لاړشي او فکر وکړي.

۱۴۰-- ځوک چې غټه تيره پورته کوي، له
دې سره ښايي، چې نه يې ګوزاره وي.

۱۴۱-- زر بيتونه دومره وزن نه لري لکه
د ټکی يوه د غنمو دانه.

۱۴۲-- ښه ده له ملګرو سره په زولنو کې،
وپرديو سره پهباغکې.

۱۴۳-- هغه چې ګاونډيانو سره کينه لري، په
لمر کې هم ناسمي ګوري

۱۴۴-- له کوديو څخه کوټۍ پيږندل کيږي.

۱۴۵-- هيڅ يو بې له تېر وخت مقدس نه
شته او بې ګونا بې له راتلونکې نه شته

۱۴۶-- هره تياره شپه يوه رڼه پای لري.

۱۴۷-- د انسان دباندنې خوا د دننې مخپاڼه ده.

۱۴۸-- اوس واړه شيان شيان وکړه، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دا لوي په هیله وار په وار په تا
پسې درځي، چې وکړل شي.

۱۴۹-- دوهزړونه چې یو شي، غرونهړنګوي

۱۵۰-- پوهېدنه یو غرنی ژوی دی او باید
ښکار شي، له هغې څخه د مخه چې
کورنی کوې یې.

۱۵۱-- سلامو اچول مو خبرو ته لارښودوي.

۱۵۲-- لرګی ارام سوزي، پرته له
اغزي:،، موږ هم لرګي یو!،،

۱۵۳-- تا ته هیڅ څه حق نه درکوي، چې یو
شته زخمي کړې.

۱۵۴-- د نارینه هیلې و پښو ته ځي، د
ښځې هیلي اسمان ته الوزي.

۱۵۵-- هوښیار اوسه، چې ژبه دې خوسا نه کړي،
دا ناروغي، چې ژبه یې پیداکوي، نه روغیږي.

۱۵۶-- مشورې ته غوږ نیول د ښه ژوند ریښه ده.

۱۵۷-- څوک چې هوښیار او ښه نیت لري
له کړنې د مخه ښې مشورې پشيې ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۸-- باغوان د میوې پهمخت کې کانه غوړونه لري.

۱۵۹-- دا چې نړۍ بې وفا ده، هېڅ کتل پټ نه پاتيږي.

۱۶۰-- ښه بېلګه و خراب ته په درد نه خوري.

۱۶۱-- ښځه، ټوپک او کچر دې څوک پور نه ورکوي.

## ختیځ متل

۱۶۲-- خر چې څه وايي، باور پرې لري.

## ايراني هښيارتياوې

۱۶۳-- تر هغې پورې چې پيسې لرې ملګرى

دې يم او ستا په جيب مين يم.

۱۶۴--څه چې يو ځوان په هنداره ګوري،

دا يو زوړ د خټو خښته کې ګوري.

الماني به يې داسې وى.

يو زوړ شاته ښه کتلى شي و يو

ځوان ته، چې مخ ته ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶۵-- ګومان وپوهې ته کونجي ده.

۱۶۶-- د یوه هوښیار فکر دروغ ډېر ښه
دي، و یوه پارونکي رښتیا ته

۱۶۷-- خراب مال سړی د دوکاندار په ږیره نښلوي.

الماني انډولیې: څوک چې د شپې غلا وکړي،
سبا ته یې ببرته رواړي.

۱۶۸-- مینه او هوګه(؟) پټه نه پاتېږي

۱۶۹ که ستا ملګري ته کینه راځي، نو بیر

ورکړه.که ته رېښتینې مینه ورسره لرې،
نو هغه ته یې جوړول وښایه.

۱۷۰-- د تراوسه نه ښکارشوي یېږي پوست

مه خرڅوه

۱۷۱-- د هګۍ غل د اوښ غل کیږي.

انډول الماني یې: سړی په کوچني پیلوي

۱۷۲-- بې عقله له ژوند ډېر څه لري.

انډول الماني یې: ډېر بېعقله بزګر عټ

الوګان راباسي

۱۷۳-- له سترګو لرې، له زړونو لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۴-خر خر پاتیزي، که زین یې له بخمل
هم وي. یا د عیسی خر همغه خر دی،
که مکې ته هم لاړ شي.

## ختیځې هوښیارتیاوي

۱۷۵- کار دې باید اس وي او نه سورلۍ

۱۷۶-- که ښکلا غواړي ښکلې شي، نو
ځان په بدرنګوالي بدلوي

۱۷۷-- کائېنات انډول کې راځې، که دوه
سترکې سرهمخامخ شي، دوه لاسونه
سره ورکړي، او دوه زړونه سره نږدې شي.

۱۷۸--که مینه له دړې راننوځې، عقل یا هوښ له کړکۍ تېښتي
اسیانیې متل

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۹-- اوبه چې کیشتۍ ورړې همغه دي، چې
ډوبوي يې هم..

۱۸۰-- يوه ډارونکي سره چې بېډاره مخامخ شې،
پخپله ريږديږي.

۱۸۱-- يوه ښه مشوره د ښه فکر سره ورکړه
او په دې فکر وکړه، چې يوه ورځ به راشي،
چې ته به هم يوې ښې مشورې ته اړتيا ولرې.

۱۸۲-- بخت د خورا لږ او خورا ډېر
په منځ کې تمځای دی.

۱۸۳-- ګبينی خوږ دی، خو يو وړوکی کوچنی
ډېر خوږ دی.

۱۸۴-- که په اوبو کې ولوېږې، نو سين
ته مه په قهرکيږه.

۱۸۵-- باور د مسئوليت خور ورور دی.

۱۸۶-- چې ته يو څه کړي يا نه کړې، مه
هېروه، چې ته يوه بېلګه ورکوې.

۱۸۷-- که هيلې وبښيږي، نو ناهيلی بيديږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۸-- که غواړې چې په بل بریالی شې،

نو لومړی په ځان بریالی شه.

۱۸۹-- که غواړې په نورو قضاوت وکړې،

نو لومړی په ځان قضاوات وکړه.

۱۹۰ـــکه غواړې نو روپېژنې، نو لومړی ځان وپېژنه.

## د سوریې پخواني اوسېدونکي **Aramäische Sprichworte**

۱۹۱-- د دکان په دړه کې ډېر ملګري او یاران دي،

د غریبۍ په دړه کې نه ملګري شته، نه یاران

۱۹۲-- که سپي درته و غپل، کورته ننوځه، که

که سپۍ درته وغپل، نو ترې تخته.

۱۹۳-- نیشه مه کړه، نو ته به ګوناه ونه کړ

-- د پښتو یې داسې دی:

د پردي ځویه څخه خپله لور ښه ده.

۱۹۴-- دوه له دریو ښه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دا نو ځواني او زړښت دی)

۱۹۵-- که وواريږ یو ملګری مړ شوی، نو باور
وکړه، نه که واوريږ چې هغه بډای شوی.

۱۹۶-- په غریب پسې غريبې ځي.

۱۹۷-- یو خوب چې څه ترې نه پوهېدلکيږي،
داسې دی لکه يو نالوستی ليک.

۱۹۸-- چينه، چې له کومې دې څښلې، تيږې
مه غورځوه.

۱۹۹-- ته اخلې او ته میراثوي، خرڅ کړه او بايلې.

۲۰۰—خراب څوپړی مشوره غواړې، له
هغې وروسته چې کار يې کړی وي.

## ختيځه هوښيارتيا:

۲۰۱-- پخپله غل هم، چې غواړي غلا وکړي،
وخدای(ج) ته د مرستې غږ کوي.

۲۰۲-- ښه داده، چې خرڅ کړې، له دې
څخه د مخه چې ته ته تباه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۳-- رښتیا پاتیږي، دروغ نه پاتیږي.

۲۰۴-- په کور کې ګوډ ته څوک نه وايي،
چې ماهي زوړند کړ

۲۰۴-- که څوک غواړي بد کارونه
وکړي،نوهغه هم لوي ځښتن خپلو غوښتنو ته پرېږدي.

۲۰۵-- که څوک خپله کینه راوباسي،
خپل کور ورانوي.

۲۰۶-- که بزکر باچا هم شي، بیا یې
هم ټوکرې له غاړې نه لرې کیږي.

۲۰۷- - که د یوه سخوندر لپاره وابنه چمتو
کوي، نو سړی کړی شي د ډېرو لپاره یې
هم چمتو کولی شې.

۲۰۸-- لومړی سړی پېژنې، بیا سړی خپل نیت وايي.

## Sprichworte aus Bahrain بحرین

۲۰۹-- نړیَ په ګډوډیَ کې ده، او ښه ښځه
لا په یوه ملګري پسې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۰-- زړه پیشو نه شي روزلکېدی.

۲۱۱-- ټوله ورځ روزه ونیسه او بیا یې زر
د پیاز سره ماته کړه( بېوزلو ته).

۲۱۲-- هېڅ دې شا ښه نه کړوي پرته
ستا له خپلو کوتنوکانو.

۲۱۳-- ته پر مړه سړی باندې دا پیرزوېږنه
بولې چې د جمعې په ورځ مړ شي.

۲۱۴-- پښې دومره غزوه، لکه ستابړستن.

۲۱۵-- ولې ځان د لوي ډونډ او د هغه د خطر
سره ځره ځان زوروې، چې د خدای رحم
یې په غاړه وي.

۲۱۶-- څه شی چې په هرکاره کې دی،
همغه ستا کاشوغه راسپړي.

۲۱۷-- څوک چې انګورو ته نه رسیږي،
وایي چې دا تروه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۸-- څوګ چې بې زړه وی، کوچنیان

نه شي پیداکولی

۲۱۹-- څوک چې ښه ژوند غواړې باید

ګیلې ونه کړي. ( داپه دې پرېږو هېڅ نه

چې د دې لپاره دې کار وکړي.)

## Sprichworte aus Bangladeschبنګلادېش

۲۲۰ -- زړې غواوې ځوان واښه خوښوي

او زاړه نارینه ځوانې ښځې

۲۲۱-- وړیا کار ښه دی، و بېکارۍ ته

۲۲۲-- غلبېل ستن ته وایي، چې ته یو سوری لرې.

۲۲۳-- غولونکی دوه باره وړي.

۲۲۴-- د مېړه ژوند شهرت دی، د ښځې مېړه.

۲۲۵-- سترګې د اروا هنداره ده

۲۲۶-- یو ډک لاس مینه خورا ښه ده،

و یوې له ډوډې ډک تنور ته.

۲۲۷ --ښځې د خپلو مړونو یواځې نیمایي ده.

۲۲۸-- یو کوچنی له خپلې مور په وریخو، یوه

ښځه له خپلې د میړه سره ببلیږي یا اموخت بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۹-- په اړتیا کې ملګر توب بیدیا په باغ بدلوي.

۲۳۰-- د ړندو سترګو لپاره وېښتیا او خوب
همغه دی.

۲۳۱-- نیم رښتیا له دروغو څخه خطرناک دي.

۲۳۲ -- په زړښت کې خبرې په وړوکتوب کې اوښکې.

۲۳۳-- ژوي په داسې حال کې مړي،
چې خوراک کوي، موږ مرو، پهترڅ کې
چې فکر کوو.

# ختیزه هوښیارتیا:

۲۳۳ -- دومره مه جګېږه، چې جکړ دې وغورځوي.

۲۳۵-- له ویلو څخه د مخه شپې ته ودرېږه،
چې ورځ ښه ده.

۲۳۶-- که سیلاوونه پاتې شو، نو کښت هم پاتې کیږي.

۲۳۷-- که د چا په راتګ نه خوښیږې، نو په
تګ یې خوښ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بنګلادش هوښيارتيا

۲۳۸-- که څوک د ښځې لخوا بخل کيږي،

نو دا نه وږی دی او نه تږی.

-۲۳۹- که په چا پيشوګانې ګرانې وي، نو

ښکلې ښځه لري.

۲۴۰-- که څوک تېر هڅېږبهلري، نو بايد کلک سر ولري.

۲۴۱-- که غريب موړ شي، نو په غرمه کې

ستوري ګوري.

۲۴۲-- غوږ راکړه، نو سر پسې راځي.

## Sprichworte aus Bhutan

۲۴۳-- د جنګ په ميدان کې جګ او ټيټ
ټولکی په منځ کې توپير نه شته.

۲۴۴-- باران هلته پورې وريږي، خو څاڅکي يې
دلته رالويږي.

۲۴۵-- هغهډول، چې غشی څنګه موه ولي،

غوره دی، و لار، چې څنګهوېشتل شوی،

لار چې ته څنګه اورې غوره ده، و دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته ښنګه خبرې کوې.

۲۴۶-- د پړانګ پټې دباندې لو رته دي. د يوه انسان
پټې د انسان په دننه کې دي.
( د پټې لاندې ،، خوي ،، پوهېدلکيږي.)

۲۴۷-- ته بايد لومړی لږ هه خوا دېخوالاړ
شي، له دې د مخه چې ته د تال؟؟؟ منځ کې
واتېن باندې پوه شي.

۲۴۸ -- يو باور وړ کس زړه غلا کوي

۲۴۹-- د ما هيواد کې سل اسونه لرم، خو
که ځم، نو په پښو ځم.

۲۵۰-- ساده ژبه په ساده خوله کې مه ړده.

۲۵۱-- د غوړه مالۍ وييونه د يوه مينه ناک
کس له خولې نه راوځي.

۲۵۲-- ساعتتېري او خوند اخستل ړ نامه لاندې
مېندل کيږي، جنجال او د يو بل زړه بدي هم هملته.

۲۵۳-- که فکر ښه وي، ځای او لار ښه، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر بد وي، ځای او لار هم بد دي.

۲۵۴-- که رښتیا ووایې، نو خلک نېکمرغه
نه دي، که په د یوه ډانګ ووهې، نو
سپي هم خوښ نه دي

۲۵۵-- که یوه غوا ولرې، ښه ده، چې ورو ورو
یې ولوېشي، و دې ته، چې حلاله یې کړي او یا
یې فورا خرڅه کړې.

۲۵۶-- که د خپلوان په منځ کې اقتصادي ګډون
نه وي، نو اړیکې ښې وي.

۲۵۷-- که په کوټه کې ډېر کسان وي، نو
دړه نه شي جوړېدی.

۲۵۸-- که پلار او ځوي خبرې رد او بدل
نه کړي، نو یو له بل معلومات لاس
ته نه راوړي.

۲۵۹-- که ته مزد میراث غواړې، نو سپیو
ته مهربانه او.( سپي و انسان ته خورابنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانس لري، چې بیا وزېږېږي)

۲۶۰ --چېرته چې ډېرې اوبه وي، هلته ورېنګي وریږي،
چېرته چې پوره تودوخي وي، هلته لمر ځلیږي.

۲۶۱-- که ته تل خوښي لټوې، نو وهغې ته
کړی شې یواځې له تا سره ور ورسیږې
او که ته هر کله زړه بدې یا غم لټوې، نو
ته کړی شې هغه له تاسره ومومې.

۲۶۲-- ټول هغه مه ښایه، څه چې له نورو
پوهیږې، هغوي کړی شي له تا څخه
هوښیار شي.

## د برونای **Brunei** متلونه

**ټاکن ویناوې: ،، برونای، د روغې هیواد،،**

۲۶۳-- له ژونده ډار، مرګ نه غوښتل.

۲۶۴--ناهواره ځمکه مهملامته وه، که ته
نه پوهیږې، سړی څنګه ګډیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶۵--فکر مه کوه، چې په ولاړو اوبو کې
به کروکودیل نه وي.

۲۶۶-- یواځې یوه هګۍ، په ولس کې غوغا.

۲۶۷-- په یوه ځنګل کې بې له ځمرې ړنده
بیزو پاچاده.

۲۶۷-- که ته دې کین ادوم زخمي کړې، ستا
ښي ادوم یې هم حس کوي.

۲۶۸-- که دوه پیلان سره ټکر شي، نو په
منځ کې یې سوی مري.

۲۶۹-- که دوه زړونو ته ښېرا وشي، نو ګبینی
به داسې خوند کوي لکه سرکه.

## د دایاک متلونه

دایک یا دیاک یا داجک په بورنیو کې د یوه قوم یوه ډله ده، دوي
درې هیوادونو، اندونیزیا، بورنای، او مالایزیا کې د بورنیو په لویه
وچه کې ژوند کوي.

۲۷۰-- نیم خوراک ښه دی، وسوې ډوډۍ ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷۱-- چېرته چې زړه غواړې، زر لارې
پيداکولی شي، مګر چېرته چې زړه نه
غواړي، نو زر  به بخښتلارې پيدا کړي.

## د اردون متلونهJordanien

۲۷۲-- تل لمرخلېدا سحرا جوړوي.

۲۷۳-- يوه وعده وربځ ده ، او پوره کول يې باران.

۲۷۴-- هغه څه هېڅ ملګري ته مه وايه، چې
له غليم څخه يې پټ ساتې.

۲۷۵--  ونه چې سيوری درکوي مه وهه.

۲۷۶-- په سحرا کې هوښيار سړی د کاروان سره
ځي او يو بېعقله ځانله تګ ښه ګڼي.

۲۷۷-- خانده او  نړۍ له تا سره خاندي، ژاړه
او ته ځانله ژاړې.

۲۷۸-- کله کله تصادفي پېښه ښه ده و زړو جرګو ته.

۲۷۹-- په خدای باور ولره، خو اوښ دې
وتړه( دامتل په نورو عربوکې هم شته)

۲۸۰-- که قسمت تا سره نه جوړيږي، نو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقسمت سره جوړ شه.

۲۸۱-- که نه شرمیږي، کوه څه چې کول غواړې.

۲۸۲-- که اوبه ولرې، نو د شګو سره پاکولو

ته اړ نه یې.

## د کمبوجا متلونه

۲۸۲-- کارګر لاسونه، مړي خېټې.

۲۸۳-- کیشتۍ تېریږي، خو د سیند غاړه پاتیږي.

۲۸۴-- که پیل، په ختو کې ننوتي، نو ونه به له

ځان سره وباسي.

۲۸۵-- پړانګ د ځنګله په واک کې دی او ځنګل

د پړانګ په واک کې

۲۸۵-- خلک ورکوي، مګر په بیره یې نه اخلي.

۲۸۶-- د شولو (وریژو) نه رسېدلي بوټې

نبغ ولاړ وي، داسې چې پښې ښانګې

د وړو دروندوالي له امله راکړیږي

۲۸۷-- دا چې د هسک لاندې کېني، نو د

خاوندوالي دعوا یې نه شي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸۸-- ته اړیین نه یې چې ونه ووهې،

که غواړې میوې ته یې ورسیږې.

۲۸۹ـ یو سړی دې د ښځې په مخ کې

له ښکلې نجلۍ څخه نه غږیږي

۲۹۰-- کسان چې ستا ښه نه زاځي، مه

وله، هغو ته، چې دربانډې ګران دي، پور

مه ورکوه.

۲۹۱-- د مینې زړه وروزه، چې جنجال نه پیژنې.

۲۹۲-- مه پرېږده، چې یوه ښکلې ښځه درپسې

روا نه وي.

۲۹۳-- یو په قهر سړی مه پرېږده، چې

لوښي کنګال کړي، غریب کس مه پرېږده،

چې په وریژو پام وکړي.

۲۹۴-- د اوبو سره سړی سیندونه جوړوي،

د وریژو سره سربازان.

۲۹۵-- د بډایو کسانو بېلګه مه ورکوه.

۲۹۶-- دا سیده لار مه نیسه یا دا کږه لار.

هغه لار ونیسه، چې ستا پخوانیو نیولې وه.

۲۹۷ـ غلا کېدی شي ګټه راوړي، خو پرېښوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ګران ( په ارزښتکې ) دي.

۲۹۸-- که د خپلې ښځې سرهبې زړه یې، ته به هېڅکله

بچیان ونه لرې.

۲۹۹-- که بېعقله یې، بېعقله اوسه، چې

خلک درسره زړه سوی ولري.

که منځنی یې، منځنی اوسه، چې خلک دې

درنښتولري یا ومني.

که یو څه ناسم وکړې، نو وهڅېږه، چې زیات ترې

راوا نه خلې.

که د جنجال په وخت کې زغم وکړې، نو د ځان

لپاره به د شلو ورځو اوښکې سپما کړې.

که ګومان کوې ښځه دې ښکلې ده، نو مه پرېده،

چې وشا ته دې لاړه شي.

که ته ډېر پوهېږې، نو ته پوره پوهېږې، چې د ځا

لپاره درنښت وګټې. که ته بېعقله یې، نو پوره

بېعقله اوسه، چې زړه سوی درباندې وشي

## Sprichworte aus Katar قطر

۳۰۰-- هرڅوک چې د پلرونو په لار ځي، ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰۱-- ښه ښه دی، که مخ یې هم نه وي مینځلی او

بد بد دی، که مخ  هم ومینځي.

۳۰۲-- ته لمرلوېده یې او زه لمرخاته.

۳۰۳-- یوه ورځ ستا لپاره ده او بله ستا مخامخ.

۳۰۴-- وعده یوه زمانه ده.

۳۰۵ -- دا یو چرګړی دی دومره لوي لکه

مور یې، خو دانه شي الوتلی.

۳۰۶-- دا دومره ستر دی، لکه خرما

ونه، خو مغذ یې دومره واړهدي، لکه د وري.

۳۰۷-- زه ستا لکړه یم، هغه چې تا نه پرېږدي.

۳۰۸-- خیلاپلوي یوه کونجي ده، چې نالید څه ګتلی شي.

۳۰۹-- هره زېږنده یو  هلک نه زېږوي.

۳۱۰-- سپی ووهه پړانګ ډارېږي.

۳۱۱-- ځوک چې دړه وټکي، ځواب ورکول

کېږي.

۳۱۲-- څوک چې باخه نهپېژني، پخه به شي.

۳۱۳-- څوک چې په خره سورېږي د خره

د بوي سره زغم لرې.

۳۱۴-- څوک چې بچیان لري، نهمري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱۵-- ګوته وتړه، نو هر څوک به درته
دوا ولیکي.

۳۱۶-- دوه کفتانان کیشتۍ غرقوي.
پښتو یې: په دوه قصابانو کې غوا مرداریږي.

د کویت متلونه

۳۱۷ --خوزښت په خپل ځان کې بخت
لري او ډېر بخت یو ټوپ غواړي.

۳۱۸--اغېزګلې وړه پخوونکي ته ورکړه،
که نیمایي هم ترې خوري.

۳۱۹-- باور په زړلره، چې څه ګورې او
هغه هر څه، چې ته اورې.

۳۲۰-- خدای پوه د کار لپاره خرڅوي- و خطر ته.

۳۲۱-- زه ګیله من وم، چې بوټان مې نه
لري، تر هغې چې د یو چا سره مخامخ
شوم، د کوم چې پښې نه وې.

۳۲۲-- په یوه میاشت کې بې له مزدورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسو څخه ورځې مه ګڼه.

۳۲۳-- په مکه کې هر حاجي په خپله لار ځي.

۳۲۴-- یو زوړ سړی مه لیږه، چې خر واخلي
او نه هم ځوان سړی، چې یوه ښځه واخلي.

۳۲۵-- څوک چې اغزي کري، هیله دې نه
لري، چې روځې به ټولې کړي.

## د لاوس متلونه

۳۲۶-- بخت له هغه چا الوزي، چې اړتیا ورته لري.

۳۲۷-- د غریب سړي چغِه لرې نه ځي.

۳۲۸-- د یوه پخ یا غوځ لرګي اوبه کولو لپاره
څه لاس ته نه راوړې.

۳۲۹-- ته کړی شې یوه ځوانه څانګه
کږه کړې، خو ستونځمنه ده، چې یوه
زړه ونه کږه کړې.

۳۳۰-- یو لرګي لا اور نه شي جوړولی

۳۳۱-- یو له پیسو ډک پتنوس دومره
ارزښت نه لري لکه یوه له زیرکتیا
څخه ډکه پوهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳۲-- د یوه غوړ سره واوره، د دې بل غوړ
سره شکي شه.

۳۳۳-- د تپوس سرهژوند وکړه، او
تپوس شه، د کاریو سرهژوند وکړه او
کاغئ شه.

۳۳۴-- هیواد سره د مینې الات زده کړه.

۳۳۵-- سره له دې، چې هغه د پیلانو وشا
ته ځی، ځان ډاډه او ساتلی ګوري، کېدی
شي هغه د پیلانو دسرو سره ککړ شي.

۳۳۶-- هوښیاران نه تښتي او تښتېدونکي
کمپیدا هوښیار دي.

۳۳۷-- که پوهېږې ورزده کړه، که نه
پوهېږې زده کړه.

۳۳۸-- چې اوبه ډېرې شي، کبان مېږې
خوري، که اوبه کمې شي، نو مېږې
کبان خوري

۳۳۹-- که شیان غواړې اسان وي، نو ستونځې
به ولرې، که جنجالونه دې ښه راځي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریالی به وې.

۳۴۰-- که ته غواړې چپړاسي شې، نو د
بډایو چپړاسي شه، که ته غوړې سپی و
اوسې، نو د کلیسا سپی شه.

۳۴۱-- که تا دا واورېده، باید هغه وګورې،
که تا هغه لیدلې وي، نو د زړه سره
قضاوت پرې یاندې وکړه.

۳۴۱-- که پیسې لرې، نو خبرې کړی شې،
که لرګي لرې، نو کړی شې وځان ته یو
کور جوړ کړې.

۳۴۲-- ډېره روزنه بدبختوي.

## د مالیدیون Malediven متلونه

۳۴۳-- هغه کوچنی، چې نه ژاړي، نو شوده
نه ورکولکیږي.

۳۴۴-- د اوبو ډک لوښي نه خوزیږي.

۳۴۵-- د غله بکس کلک بند وي.

۳۴۶-- ملامت هغه دي، چې ډار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۴۷-- زر ورځې غل، يوه ورځ د واکوال په زور.

## د عمان متلونه.

۳۴۸ ټول نوي ځواږه دي.

۳۴۹-- زاړه وربښم ښهدي دي و نوو وړيو ته.

۳۵۰-- له سپينو زرو يې جوړ کړه او
د سرو زرو پوښ ورکړه.

۳۵۱-- د سړي سيوری ښه د ی، د ديوال وسيورې ته.

۳۵۲-- ځنګه برېښېدل راکښونی دی،
خو پرېيو هېدنه يې، ناتوانه ده.

۳۵۳-- له اور ايرې باتې کيږي.

۳۵۴-- ښه خبرې ديوال لړځوي.

۳۵۵-- خراب سور تلل ښهدي و پلي تګ ته.

۳۵۶-- اوبهد غريبو خلکو عطر دي.

۳۵۷-- هغه ګوزار چې بل وهي، ته
داسې ګور لکه پهديوال کوچنی درز.

۳۵۸-- دا خر ځموږ دی، خو موږ يې
په لکۍ پسې ځو.

۳۵۹-- چرګ په هګۍ کې چغې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( الماني انډولی بې: د مخه کړ.ي، چې څه
شی، چې باید خنجکی شي).

۳۶۰-- ورسره همغږ.ی داسې دی لکه کړونی،
یا: اورېدونکی داسې دی، لکه لوستونکی.
( الماني انډول يې: ورسره تللی، ورسره نیولی ).

۳۶۱-- لرېوالی بخت دی.
( یوڅه له لرې لیدل، ښه لیدل کیږ.ي).

۳۶۲-- پوښتنه د پ،هنې کونجي ده.

۳۶۳-- هوسۍ لاړه چې ښکر واخلي، بې غوږ.و
بېرته راغله.( پښتو انډول يې: غوږ. يې ګاټه
سر يې پرې کښېښود).

۳۶۴-- د ښځو ویښتان اوږ.ده دي، خو یاد
یې لنډ.

۳۶۵-- ژړ.ا او ناواني یواځې درې ورځې ده.
( الماني انډول يې: وخت ټول زخمونه‌حوږ.وي).

۳۶۶-- یو سړ.ی بې له چلول داسې دی، لکه
بې پټاکی کارتوس.

۳۶۷-- یا ارام پاتې شه او یا يې داسې ووهه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې درد وکړي.

۳۶۸-- هغه د سترګو ناروغۍ سره خوښ

نه وو، ړندېدنه يې په برخه شوه.

۳۶۹-- هر کلی ستا لپاره څه زيانونه لري.

۳۷۰-- ستا د کوکوس غوز په ونه جګ

مه خېژه، هر کوکوس غوز غواشينوي،

يا ته راولوېږې.

۳۷۱-- د نن ورځې د کور کار سبا ته مه پرېږده.

۳۷۲-- داوبوپهځنګ کې واوسېږه اود خوراک

سوال مه کو. هر چېرته چې تازه اوبه وي،

هلته هرومرو پوره د خوراک څه شته.

۳۷۳-- مرغان د دانو سره ورو زهاو نه د ډانګ سره.

۳۷۴-- د هغه کالي پاک او وتو دي. د هغه جبونه

تش دي.

۳۷۵-- په کور کې د پخلي لوښی نه لري، خو

کالي يې د کريستالو څخه ځلک وهي.

۳۷۶-- تر هغې پورې چې ونهشنه وي، پاڼې يې نه

لويږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۷۷-- په سخوندر باندې باور مه کړه،

که سر يې په تنور کې هم وي.

۳۷۸-- پيسې دې جيب کې کېږده او ځان

ته مور او پلار واخله.

(الماني انډول يې د ورته پرېپوهېدنو سره:

پيسې په نړۍ حکومت کوي. يا پيسېې هر

څه کولی شي. يه پيسې کړی شي شيطان ونځوې.)

۳۷۹-- خپله د وړيو برستن د غالۍ لپاره

مه خرڅوه، چې همدا اوس مخې ته درغله.

۳۸۹-- مرغه پورته ځي، مرغه ښکته ځي.

۳۹۰-- که ملګری دې ګبينی هم وي، غونډ مه څټه.

۳۹۱-- که موخه دې ښه وي، نو يو تيزن
خر به هم تا ته زيان ونه رسوي.
۳۹۲-- چې خر موړ شي، لغتې وهي.
۳۹۳-- که غږېدونکي ليونيان وي،
اورېدونکي دې هوښيار وي.
۳۹۴-- چې انګورو ته رسيږي، وايي تروه دي.
۳۹۵-- څوک چې څه اموخت لري، هغه به
هېڅکله پرې نږدي، که کوته يې هم غوڅه
کړی شي
۳۹۶-- څه چې کرې هغه بهرېبې
۳۹۷-- څنګه چې کرې هغسې بهرېبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹۸-- يوې غوا به د خپل بچې أه پوستکي
ځومره اوبه ځښلې وي.

## د فلسطين Palästina

۳۹۹-- له سندر غاړي هيله مه کوي چې
سندري ووايي، تر هغې پورې چې خپله
وغواړي، چې سندري ووايي،
۴۰۰-- سترګې له بڼو نه شي پورته کېدی.

۴۰۲-- ستا نږدې ګاوندی ښهدی، ستا ولرې ورور ته.

۴۰۳-- هغه چې په انسانان باور لري هغه دی،

چې غواړي غلبېل کې اوبه يوسي.

۴۰۴-- څوک چې بل ته قبر کني، پخپله په کې لويږي.

۴۰۵-- له يوه اکسپرت څخه و پوښته او نه

له يو هفيلوسوف څخه

۴۰۶-- خدای ته هغه څوک ګران دي، چې

له هغهڅه غواړي، و هغوي ته، چې

هغه ته څه ورکول غواړي.

۴۰۷-- يواځې دا ځمکهپوهيږي، چې موږک

کلهناروغدی.

۴۰۸-- ښه وکړه او سين ته يې واچوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۰۸-- هر څهچې یو هسې کړي وي، کړی
شي یو سړی وکړي.
۴۰۹-- څوک چې د پیاز او د هغه پوښ
منځ کې ګیر شو، له یوه بدبوي سره راوزي.

## فیلیپینی

۴۱۰-- له دې څخه د مخه چې ته خبرې
کوي، په دې هکله اوه واره فکر وکړه.
۴۱۱-- هغه چې تا زوروي، ډېرې لارې پیدا کوي.
هغه چې تا ته څه نه وایي، ډېرې بخښنلارې
میندي
۴۱۲ -- واده ( ښځه-مېړه والی) داسې
نه دی لکه سړې وریژي، چې یوه څوک
خوله وځوزي ، توی یې کړي.
۴۱۳-- په کور کې ډیوه به کوڅهرڼا کړي.
۴۱۴-- یوه نه مهمه ورځ دې ونه ګڼل شي.
۴۱۵-- د خپل ګاونډي سره تېری په خدای(ج) برید دی.
۴۱۶-- یو هوښیار خپلو پښو ته نه ګوري،
بلکه پام کوي چې بل پل څنګه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱۷-- یو دروغ ووایه، چې رښتیا را
رڼا ته کړي.

۴۱۸-- دروغ ووایه، چې رښتیا راپیدا کړي.

۴۱۹-- له ادم څخه بله جګه زېږنده نه شته.

۴۲۰-- ساده چې انسان اوسې، خو سخته
ده، چې انساني اوسې

۴۲۱-- سترګې پورته کړه، او ته به ستورې وګورې!

۴۲۲-- اوږده ناروغې یا درد د تقدس
نخښه ده.

۴۲۳-- ساده ده ، چې بحر تر بنسټ تش
کړې، و هغه ته چې یو رېښتونی او
وفادار ملګری چې وموموې.

۴۲۴-- ساده چې وزېږېږي، خو سخته ده،
چې یو انسان شې.

۴۲۵-- د ما د ملګرو ملګری شه.

۴۲۶-- ستا سوغات څوک نه ګڼي خو
ستا ملګرتوب.

۴۲۷-- ښکلا تلونکې ده، خو ښه خوي په ځای پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲۸-- کله کله لیکه او کله کله لوله.
۴۲۹-- که د یو بل چا په هکله د ښه ویلو
څه باندې نه پوهېږې، نو سوچبوچ څه مه وایه.
۴۳۰ -- که هرڅومره جګ هم والوزې، تل به
بېرته ځمکې ته راشې.

## سریلانکا

۴۳۱-- که څوک وخت لري، نو د هغه
لپارهآن ځنګل هم جنت دی.
۴۳۲-- د پنځه پیسو خاوند داسې ځان څرګندوي
لکه دوه برابره.
۴۳۳-- هوسی، چې وتښتېده، اته پښې یې لرې
۴۳۴-- د طیلایي اصلحې زخم همدومره درد
کوي لکه د هرې بلې.
۴۳۵-- یو مرغه چې په ورېنګي کې له
یوې څانګې څخه بلې ته الوزي، په
پای کې تل لمدیږي.
۴۳۶-- په رښتیامین سړی چېرته ځای نه لري
۴۳۷-- د یوه دښمن جزا ستا په بریا د
هغه ناخوښي ده.
۴۳۸-- د مزدورې کمښتونه سړی د اوو
بړستنولاندې هم ګوري، خو د باداري د
یوې لاندې پټ دي.
۴۳۹-- ژبه خوندي ده، که د دېرشو غاښونو منځ کې هم ده.
۴۴۰-- ته به ښه وکړې، چې د یوه کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرباني وي

۴۴۱-- یو ښه سړی کېدی شي بده ښځه ولري
او یوه بده ښځه کېدی شي یو ښه سړی
ولري.

۴۴۲-- هغه څوک، چې کار پیدا کوي، ملګری
دی، چې نېکمرغي راوړي.

۴۴۳-- یوه ښیرا شته، چې د ګوناهونو
لړۍ نه ده.

۴۴۴-- ورېنګي ده، چې سیندونه ډکوي، نه شپه نم.

۴۴۵--د یوه وخت لپاره ځنګل
هم جنت دی.

۴۴۶ -- په دوا باور لرل اغیز حندي

۴۴۷-- باور مه کړه، چې هر څه اورې، او
ټول مه وایه، په څه چې باور لرې.

۴۴۸ --د یوځایکېدو سره سم بېلتون پیلیږي.
جاپانې متل هم

۴۴۹-- تر هغې پورې بادام خوره، تر څو پورې

چې غاښونه لرې

۴۵۰-- کړی شي د تیرږې سره سولول د لرګیو

سکاره سپین کړي؟

۴۶۰-- داسې بیزو نه شته، چې مغروره نه وي،

هیڅ ښځه نه شته، چې پوره نه غږیږي،

هیڅ زرګر نه شته، چې غلا نه کوي.

۴۶۱-- پښېدل یواځې انسان ناښکلی کوي

۴۶۲-- که سپی کار هم نهلري، ورو ورو نه ځغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۶۳-- بې له تمرين څوک غاښونه هم نه
شي مينځلی

۴۶۴-- خبرې شيندلی توان دی، پټه خوله، راټول توان دی.

۴۶۵-- بخپله سردردي هم ښه ده، که
څوک يې ورپيا لاس ته راوړي.

۴۶۶ -- چې هرڅه ته کوې، له يوې مسکا سره يې وکړه.

۴۶۷-- هوښيارتيا کېدی شي په صفرونو
کې وميندل شي.

۴۶۸-- که چېرې يو هورخ بريا راځي، نو
د اسمان له څلورواړو لورو راځي

۴۶۹-- که شيطان دې ښونکی وي، نو
دوزخ ته به په ښه راغلاست ځې.

۴۷۰-- که د غوا شېدې ګټور خوراکي مواد
وي، نو ولې پښتنه، چې داتور که سپين دي؟

۴۷۱-- که ټال مخ ته لاړ شي، نو بېرته هم راځي.

۴۷۲-- که يو کار پخپله نه شې کولی، د
نورو مخه مه نيسه.

۴۷۳-- که نه شې پاچا کېدی، نو ځان روغتيا
هنر ته وقف کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۷۴-- هغه چا چې ځان لوستلس، هغه د خپل ځان واوال دی.

۴۷۵--که نه باورې ملګري ښځه ځان ازادول
غواړې، نو په ښنګ کې ستا د همدا اوس
اړتیاو ښځه غږېږه.

# تمیل

۴۷۶--هېح عبادتځی دومره ښکلی نه دی لکه خپله مور

# Arabischen Emiraten

۴۷۷-- په ولس کې نارینه لکه وړی دې، خو
ښځې د ي چې له دې رخت اوبدي یا ودي.

۴۷۸-- د ښکلې نجلی زمزمه تل اورېدلی شي،
خو د ځمري غرېدا نه.

۴۷۹-- خر د ښکرونو په لټه کې شو، چې
غوږونه یې وبایلل؟

۴۸۰-- مرګ یو تور اوښ دی، چې په هره دړه
کې پروت دی. د مخه یا وروسته به په
دې اوښ سورېږې.

۴۸۱-- د ورور پهځېر سره واسېږی او
د پردیو په ځېر معملې سره وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۸۲-- ټول هغه تېري چې در سره شوي،
په شګو يې وليکه، خو ښه څه چې در پېښ
شوي هغه په يوه ټوټه مرمر وليکه.

۴۸۳-- هغه بېعقله ته پهوښ اوسه، چې
زړو کاليو ته ورته وي. هر ځل يې چې
ته ګندې، بيا به باد خيرې کړي.

۴۸۴-- له هغه چا مشوره وغواړه، چې
تا ژړوي، او نه له هغه چا څخه، چې تا خندوي.

۴۸۵-- خلکو سره ښه کړه او ته يې زړونه ګټلی شې

۴۸۶-- د دروغزن له کښېناستو ځان وساته،
او که دا نه شې کولی، نو باور مه پرې کوه

۴۸۷-- که هر د سپی غپا ته ودرېږې، نو لار
به دې هيڅ وخت پای وه مومي.

## نور نړيوال متلونه

۴۸۸ --د ساده کسانو له خولې څخه راوزي.

۴۸۹-- سوال يو غريب سړی نه مړوي.

۴۹۰ --څه چې لرې د لاسه يې مه ورکوه،
د هغه څه لپاره چې غواړې لاس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راوړې. م.م. ش.

## د افغانستان متلون

۴۹۱-- ځانله والی مرګ راوړي. یا
مرګ دی.

۴۹۲-- ځانله ژوند مینه وژني

۴۹۲-- زړه ښځه د کور ګاڼه ده، زوړ
سړی د کور نېکمرغي

۴۹۳-- په بېديا کې زړې ښځې يوه رحمت دی.

۴۹۴-- په لومړۍ ورځ ملګری ګورې ، په دويمه
ورځ ورور. په لومړۍ ورځ دې ملګری وليد،
په بله ورځ دې ورور

۴۹۵ --لويې اوبه هم له څاڅکو جوړې دي.

۴۹۶ -- څاڅکی څاڅکي درياب کيږي.

۴۹۷ --د لاس پنځه ګوتې هم برابرې نه دي

۴۹۸ -- ووزه هم ږيره لري

۴۹۹ -- بې له چرګه هم سبا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۰۰-- که غر لوړ دی، په سر یې لار ده

۵۰۱-- په ځمکه کې ستونځې دي او
اسمان لرې

۵۰۲-- په ډېرو قصابانو کې غوامردارېږي.

۵۰۳ -- کابل بې له طیلا ښه دی، نه
بې واورو.

۵۰۴-- د انسان ښه ښکلا د هغه تربیه ده.

۵۰۵-- وینه په وینو نه مینځل کیږي

۵۰۶-- تربیه له بې تربیه وو زده کیږي.

۵۰۶-- لرګي وسوزېد، خو ایره یې جنجال دی.

۵۰۷-- ځمکه هغه سوزي، چې وور پرې بل وي.

۵۰۷-- چینډښه په دیوال وخته، وې چې
کشمیر ګورم.

۵۰۸-- که سندرغاړی اورې مړی سوزي.

۵۰۹-- خر همغه خر خو کته یې بدله ده.

۵۱۰-- چرګ د هغه له بڼکو څخه پېژندل کیږي.

۵۱۱-- میلمه د خدای (ج) ملګری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۱۲-- اسمان تیاره دی، جو سره له

دې هم رڼې اوبه وریږي.

۵۱۲-- انسان له تیګې ټخه کلک او له ګل

ټخه نازک دی

۵۱۳-- انسان له خپلو ویناو پېژندلکیږي

۵۱۴-- د ښځې یاکور دی یا ګور

۵۱۵-- د یوه ناولتوب د بل هیواد دوادوا ده.

۵۱۶-- د یوه کم اصل سړي ځوي نه

شي قهرمان کېدلی.

۵۱۷-- پلار دومره غوره نه دی، خو جیب یې

۵۱۸-- چینجی د د ونې دی.

۵۱۹-- د پاچا راتګ کلی د تباهې په لور بیایي.

۵۱۸-- ښه اصلحه هغه ده، چې په لاس دې وي.

۵۱۹-- خپل حماقت د ولو منځ کې پروت دی.

(خپل عیب د ولو منځدي)

۵۱۹-- مور پلار وایي، بچی یې لوییږي،

خو هیروي، چې ژوند مکیږي.

۵۲۰-- ځمکه کلکه ده او اسمان ډېر لرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۲۱-- ځنځير له بيزو ښځه ګران دی.

۵۲۲-- کاغۍ هوښياره ده- خو هغه ګوري،

چې خوري يې.

۵۲۳-- د ژوند اخر کلونه يواځې زورونه ده.

۵۲۴-- ستونځوبی بايد پيدا وي، له دې

ښځه د مخه چې ستونښه راځي.

۵۲۵ -- که شپه تياره ده، منې په شمار

۵۲۶-- د حماقت مور تل بلاربېده دي.

۵۲۷-- نيا يواځې هلته روغه ده، چې کله مړه شي.

۵۲۸-- ګلاب ګل ، د اغزي ملګری دی.

۵۲۹-- ديوال موږکان لري او موږکان غوږونه.

( الماني انډول يې: ديوال هم غوږونه لري)

۵۳۰-- د مسافرو لپاره نړۍ ميلمستون دی.

۵۳۱-- ته په اسمان کې تنفس کوې خو مغذ

دې پښو سره دي.

۵۳۲-- ته کړی شې ژوند له لاسه ورکړې،

خو هيواد نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۳۳-- ته په هرچا بریالی کېدی شې، که د

سرو زرو څپلۍ ولرې.

۵۳۴-- ته کړی شې چې مړی یې ومینځې، خو

ګوناهونه یې نه.

۵۳۵ -- حماقت بومه رانګ( د یوه شینوم دی،

چې له غوروځولو بېرته همغه ځای ته رځي)

دی، چې غورځوني ته بېرته راځي.

۵۳۶-- اصیل او بدخویه انسانان ارزښت نه لري.

۵۳۷-- اصیل له ارزښت جګ او بدخویه

بې ارزښته.

۵۳۷-- خپل هیواد لکه عطري ګلان بوي کوي.

۵۳۸-- ملکیت داسې دی لکه مالګینې اوبه.

( مالینې اوبه تنده نه ماتوي، چې هرڅومره

وڅښې، دا بید تر هغې وڅښل شي، چې سړی تنده

ووهي. دا متل وایي: هغه باندې باید سړی بسیا

وکړي، چې څه لري، ځکه چې مړښت نه شته.)

۵۳۹-- زوړ ملګری داسې دی، لکه زینکړی آس.

۵۴۰-- یوه ونه بې باده نه خوزیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( الماني هم ور نږدې شته: هېڅ اغيز، بې لامله)

۵۴۱-- غر په غره نه ورځي، خو يو سړی

په يوه سړي ورځي.

۵۴۲-- يو ګل مخ او شا نه لري.

۵۴۳-- يو الو مخ او شا نه لري.

۵۴۳-- په يوه ګل نه پسرلی کيږي.

۵۴۴-- يو بد زخم چوړيږي، خو يوه خبره نه.

۵۴۵-- يو واده کړی شې پټ وساتې، خو

